SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال دبرشمه گڼه پرله پسې(۳۱۷)چهارشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د محرم الحرام (۲۱)د۱۳۷۹هـ ش کال د غوایی (۷)د۲۰۰۰میلادي کال د اپریل(۲٦)

محترم ملا خیر الله خیرخواه والي هرات و رئیس تنظیمیه زون شمال غرب :

در هرات باستان قدمهاي مؤثري بخاطر باز سازي تأسیسات عام المنفعه برداشته شده است

عنقریب مناطق شمال غرب کشور از انرژي برق مستفید خواهد گردید

هرات با داشتن دو بندر تجارتي با کشور هاي ایران و ترکمنستان بزرگترین شهر تجارتي افغانستان میباشد که از طریق این بنادر که نه تنها مشکلات مردمان آنولایت رفع میگردد بلکه در تورید اموال تجارتي و ایجاد تسهیلات براي تاجران ملي و سایر هموطنان کشور نیز مفید و موثر میباشد.

محترم ملا خیر الله خیرخواه رئیس تنظیمیه زون شمال غرب و والي هرات در پاسخ به یك سوال خبر نگار آژانس اطلاعاتي باختر ضمن اظهار این مطلب افزود : در هرات باستان قدم هاي مؤثري بخاطر باز سازي تأسیسات عام المنفعه و تورید امتعه تجارتي تأمین روابط نیك با همسایگان ایجاد فضاي تفاهم اعتماد و همکاري متقابل با مسؤولین سرحدي کشور هاي ترکمنستان و ایران برداشته شده است. به منظور جلوگیري از تأثیرات سؤ خشکسالي که در برخي حصص کشور زمینه هاي لازم براي تورید گندم از کشور هاي قزاقستان ، ترکمنستان از طریق بندر تورغندي براي تاجران ملي کشور ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاري) ته .

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

اعلامیه وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان

۲۰ محرم الحرام ۱٤۲۱ مطابق ۲۵ اپریل ۲۰۰۰

مدتي قبل سازمان ملل متحد تهدید نمود در صورتیکه نیروهاي ا.ا.ا دست به حمله علیه مخالفین خویش بزند این سازمان تعزیرات اقتصادي جدیدي را علیه افغانستان در نظر خواهد گرفت .

سازمان ملل متحد این تهدید را ظاهراً بمنظور جلوگیري از جنگ هاي جدید مطرح کرد اما اکنون که مخالفین ا.ا.ا در ٢٤ ساعت گذشته حملات هماهنگي را بالاي مواضع اردوي ا.ا.ا در مناطق مختلف مخصوصاً در شمال کابل براه انداخته اند سازمان مذکور در این مورد خاموش است و این به آن معني است که فقط نیرو هاي ا.ا.ا ملزم به رعایت آتش بس اند نه مخالفین.

این نوع موضع گیري سازمان ملل متحد بخوبي روشنگر این حقیقت است که سازمان مذکور به نفع مخالفین ا.ا.ا موضع گرفته که این موضع گیري آنان جز دشمني با اسلام چیزي دیگري تلقي نمیتواند.

حملات جدید شورشیان مخالف ا.ا.ا در شرایطي صورت میگیرد که کشور هاي مداخله گر از جمله روسیه و بعضي از همسایه هاي شمالي افغانستان به صراحت از کمك ص ٤

د سری میاشتی د چارواکو لپاره یو روزنیز ورکشاپ جوړ شو

له روزنیزو او اداري چارو سره د افغاني سري میاشتي د عالي پوړني نمایندگیو د چارواکو د ښې او زیاتې بلدتیا په مقصد پرون د آریانا په هوټل کې یو روزنیز او اداري ورکشاپ جوړ شو.

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دې ورکشاپ کې چې د لوگر، میدان وردگ، خوست، غزني او د بامیانو د ولایتونو د افغاني سري میاشتي د عالي پوړني د نمایند گیو چارواکو برخه لرله د افغاني سري میاشتي د عالي پوړني دویم مرستیال محترم ملا عبدالواسع عزام ددغه ورکشاپ په اړوند خبرې وکړې.

دغه ورکشاپ درې ورځې دوام کوي.

د خوست ښار ته نږدې یو جامع جومات جوړ شو

د خوست ولایت مرکز ته نږدې د څه دپاسه څلور زره لکو افغانیو په لگښت یو جامع جومات جوړ او په دې وروستیو وختو کې د استفادې وړ وگرځید.

د خوست له ولایت نه د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ په دې جومات کې چې په یوه وخت کې پنځه سوه تنه لمونځ کونکي ځایږي د جوړولو په کار کې یې ټول ضروري ملحقات په پام کې نیول شویدي.

ددغه جومات د پرانستلو په غونډه کې د خوست ولایت د حج او اوقافو رئیس محترم مولوي نقیب الله مصلح او ددغې سیمې گڼ شمیر خلکو برخه اخیستې وه .

د بهرنیو چارو محترم وزیر د فنلند له پارلماني هیئت سره په خبرو کې :

دافغانستان د اسلامی امارت دریځ

تل سوله پیېز دی

د جگړې د دوام یوازنی علت د بهرنیو هیوادونو لاس وهنه ده

د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي وکیل احمد متوکل پرون له غرمې وروسته د خپل کار په دفتر کې د فنلند هیواد د پارلمان له شپږ کسیز پلاوي سره چې په دې وروستیو وختو کې افغانستان ته راغلی دی وکتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ ددغې کتنې په ترڅ کې د بهرنیو چارو محترم وزیر افغانستان ته د فنلند د پارلماني هیأت سفر ته هرکلی ووایه او د هغوی پوښتنو ته یې قانع کوونکي ځوابونه وړاندې کړل. او یې ویل : د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان د خلکو د ارادې ممثل او د هغوی بشپړ او هر اړخیز ملاتړ ورسره دی او زموږ پاخون د ولسي سولې او ثبات د ټینگښت او په هیواد کې د یوه قوي مرکزي حکومت او د واحد قیادت جوړول دی. د دې زیاته کړه

د جهاد او تروریزم تر منځ بشپړ توپیر شته . تروریزم زموږ له نظره مردود دی

د افغانستان د اسلامي امارت اصولي دریځ تل سوله پیېز دی او د ټولو لانجو ستونزو او مشکلاتو په حل کولو کې د تفاهم او خبرو لاره غوره بولي او د نړۍ له ټولو هیوادونو په تېره بیا د گاونډیو هیوادونو سره د ښو او دوستانه اړیکو او متقابلو همکاریو د لارو چارو د پراخولو غوښتونکی دی په داسې حال کې چې د اسلامي امارت مخالفین او د هغوی پلویان تل د جگړې په دوام هلې ځلې او ټینگار کوي او زموږ په هیواد کې د جگړې د دوام یوازینی علت د بهرنیو هیوادونو په داگه لاس وهنه ده چې د مخالفینو وسله وال کول او سمبالول په ټول هیواد کې د سولې او امنیت د تامینولو په لاره کې خنډ گرځي او غواړي چې زموږ د ځوریدلو خلکو د ردونه او کړاونه لا پسې زیات کړي .

محترم متوکل د خپلو خبرو په دوام ٤ مخ

یکمقدار مواد ارتزاقي بالاي مستحقین توزیع گردید

مقدار یکهزار تن گندم و سی تن روغن براي پنجهزار خانواده مستحق در ولایت بغلان توزیع میگردد. آژانس اطلاعاتي باختر از شهر پلخمري خبر میدهد پروسه توزیع یکهزار تن گندم و سي تن روغن به خانواده هاي مستحق و بیجا شده گان در مناطق بغلان جدید، بغلان قدیم، بغلان صنعتي ولسوالي هاي دوشي، خنجان، دهنه غوري و دره نیکی و کیهان دیروز از طرف موسسه ص ٤

کاندیدان مقام ریاست جمهوري ترکیه معرفي گردیدند

رهبران احزاب ائتلاف بر سر اقتدار ترکیه براي جانشین سلیمان دیمیرل رئیس جمهور کنوني آنکشور توافق نمودند. بولنت ایجویت صدراعظم ترکیه گفت دولت ترکیه احدم نیج ویت سیزر رئیس ستره محکمه را به حیث کاندید احراز مقام ریاست جمهوري معرفي خواهد کرد . طبق خبر واصله چهار تن از اعضاي پارلمان ترکیه نیز خود را کاندید احراز مقام ریاست ص ٤

په الهي نصرت سره : د بگرام د هوایي ډگر په استقامت د مخالفینو یو ستر برید شنډ شو

د اسلامي امارت مخالفو باغیانو د اسلامي اردو د مجاهدینو په سنگرونو باندې د بولړ ناکامو تعرضونو په کولو سره له سولې او د افغانستان د مجاهد ملت له گټو سره په مخالفت کې خپله توره او کرغېړنه څېره یو ځل بیا بربنډه کړه .

د باختر اطلاعاتي آژانس د هیواد د امنیتي خبر ځایونو له خولې خبر راکړ مخالفو او باغي بلوا گرو تېره ٤ مخ

د پکتیا په ولایت کې د پولیو پر خلاف واکسیناسیون پیل شو

د پکتیا ولایت په مربوطاتو کې اته اتیا زره نهه سوه څلور نوي تنه ماشومان چې له پنځو کلونو څخه ښکته عمر لري د پولیو یا د ماشومانو د فلج د ناروغۍ په وړاندې واکسین کیږي

د پکتیا له ولایت نه د باختر ص ٤

د مسلکي او تخنیکي تعلیماتو رئیس محترم مولوي عبدالقدس د شریعت اوونیزې خبریال سره په مرکه کې :

د مسلکي او تخنیکي تعلیماتو په چوکاټ کې ځلوېښت مدرسي فعالیت لري

زموږ خبریال د مسلکي او تخنیکي مدرسو څخه لیدنه کړې او د نوموړو مدرسو له عمومي رئیس محترم مولوي عبدالقدوس مظهري سره یې د دوی د کار او فعالیت په هکله مرکه کړې چې لوستلو ته یې ستاسې پام را اړوو .

په پیل کې محترم مظهري د دې پوښتنې په ځواب کې چې ستاسې په موسسه کې څومره مسلکي او تخنیکي مدرسې شاملې دي داسې وویل : د مسلکي او تخنیکي تعلیماتو په چوکاټ کې ځلوېښت مسلکي مدرسې شاملې دي چې شل یې د کابل په ښار او شل نوري یې په ولایاتو کې د ٤ مخ

د چین جمهور رئیس جنوبی افریقا ته ورسید

د چین دولسي جمهوریت جمهور رئیس ژیانگ زیمن د جنوبي افریقا جمهوریت ته د سفر لپاره دغه هیواد ته ورسید.

دی د چین لومړنی جمهور رئیس دی چې جنوبي افریقا ته سفر کوي. ژیانگ زیمن به د خپل دغه څلور ورځني سفر په بهیر کې د جنوبي افریقا له اوسني جمهور رئیس تابوک ٤ مخ

د تیرو خپل منځي جگړو له امله زموږ تحصیلي او تعلیمي موسسو ته درانه زیانونه رسیدلي

شریعت : گرانو لوستونکو څرنگه چې د هیواد د وله بېړو اطلاعاتو د وسایلو له لارې مو خبر تر لاسه کړی څه موده وړاندې د ملي دفاع وزارت اړوند د تحصیلي او تعلیمي موسسو نوی تعلیمي کال پیل شو زموږ خبریال په همدې اړوند د نوموړي وزارت د ښوونې او روزنې له رئیس محترم مولوي ممتاز الله آغا بشراني سره ددې موسسو د تحصیلي او تعلیمي چارو د څرنگوالي په باب مرکه کړې چې ستاسې د لا زیاتو معلوماتو لپاره یې خپروو .

په پیل کې محترم بشراني د نوبو جذب شویو محصلینو په هکله داسې وویل : له تعامل سره سم موږ خپلو اړوندو نظامي تحصیلي او تعلیمي موسسو ته د هیواد د مرکز او ولایاتو له عالي مدرسو څخه نوي محصلین انتخاب او جذب کړي د یادوني وړ ده چې زموږ د محصلینو په شمیر کې د تیرو دریو کلونو په پرتله ۲۵٪ زیاتوالي راغلی او د رخت په تیریدو سره به دغه شمیر نور هم اوچت کړي شي کله مو چې له محترم بشراني نه وپوښتل چې د خپلو مربوطو تحصیلي او تعلیمي موسسو په درسي نصاب کې مو د اسلامي علومو د تدریس لپاره څه تدابیر نیولي ؟ده وویل : دیني زده کړه هر مومن افغان ته چې هر څوك وي، که د اردو په لیکو کې وي او یا ساده ژوند ولري حتمي او ضروري ده د همدې اړتیا د تر سره کولو په خاطر موږ د خپلو تحصیلي او تعلیمي موسسو په درسي نصاب کې دیني ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د ثور اوومه ویرونه عبرتونه

نن موږ یو ځلي بیا د هیواد په تاریخ کې د یوې ویرجنې فاجعې په اړه غږیږو .

نن بیا ویرجنو افغانانو ته ټول هغه ویرونه، دردونه او کړاونه وربادیږي چې د همدې کرغیړنې فاجعې له شامته یې په برخه شوي دي.

نن یې بیا هغه زخمونه تازه کیږي چې د همدې فاجعې د جنایتکارو له لاسه یې په زړونو لگیدلي دي. او بالاخره نن بیا د هرچا په سترگو کې د خپلو هغو مظلومو شهیدانو معصوم تصویرونه مجسم کیږي چې د همدې خونړي غمیزې د جلادانو لخوا په شهادت رسیدلي. که څه هم چې ۲ مخ

خشونت ها در کشور زیمبابوي همچنان ادامه دارد

با وجود گزارشهایي مبني بر نقش فعال دولت براي آرام ساختن اوضاع زیمبابوي خشونتها در آنکشور همچنان ادامه دارد طبق خبر مذکور تصادمي بین سفید ص ٤

نماینده خاص ایالات متحده امریکا عازم شرقمیانه میگردد

قرار است دینس راس نماینده خاص ایالات متحده امریکا هفته آینده به شرقمیانه رفته و در مذاکرات صلح فلسطیني ها و اسرائیل شرکت نماید.

مذاکرات مذکور روز یکشنبه از سر گرفته خواهد شد در همین حال فاروق – ص ٤

شریعت

دتأسیس کال	: ۱۳۷٤ هـ ش
	: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر	: عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال	: غلام محمد «فاروق»
دیوي گڼي بیه	: په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۳) کلداري
پست بکس	: (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب	: ٤۰۳۸۵ / ۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ	: امارتي مطبعه

د سرمقاله پاتې برخه

اوس له هماغه فاجعې نه مونږ پوره دوویشت کلونه رالرې شوي يو او د هغه په تعقیب مو تر اوسه پورې ډېرې داسې فاجعې نورې هم لیدلې چې هو تر بلې بدترې وې خو په حقیقت کې يې منشأ هماغه يوه بد مرغه فاجعه ده .

د ۱۳۵۷ کال د ثور په اوومه ورځ بې دینه کمونستانو ددې ویرجنې فاجعې بدمرغه نغاره وډنگوله . هغوی بې دینا نو خرېي لامل دا ښود چې افغانستان د معاصرې ترقۍ له کاروانه دومره وروسته پاتې دی چې آن هیوادوالو ته پکې کور، کالي او ډوډۍ هم نه دي میسر او په اصطلاح د دوی همدا مترقي انقلاب !!! به د ټولو زیارکښو افغانانو د ستونزو دوا شي. خو د هغوی ددې کمونستي اکسیر (دوا ،) پایلې او نتیجې ټولو ترېوالو په تیره بیا افغانانو ښې ولیدلې. د کمونستانو دا مارکسیستي منتر چا ونه مانه او تر کومه ځایه چې خبره په افغان مؤمن ولس پورې تړلې وه هغوی خو په ښه غیرت ، ایمانداري او شجاعت سره د ملحدینو په مقابل کې مقاومت وکړ او وېې کولای شول چې د لوی خدای په کومک او د خپل اسلامي جهاد په برکت د کمونستي امپراتورۍ لوېه نقشه د نړۍ له مخه ورکه کړي خو چې بیا کله خبره په لوېه کچه دجهادي زعامت بې کفایته رهبرانو ته ورسیده هغوی بیا د خپلې بې کفایتۍ او حیواني غرایزو د اشباع په منظور هر څه هیر کړل. هغه که شهیدان ؤ که زخمیان ، که کونډې وې که یتیمان، که وران وطن و که بندیان آن که د روسانو لخوا سوځیدلي قرآن. د کومې کرسۍ له پاسه چې کمونستو مجرمو چاروا کو کومې ناخوالې په افغانانو راوستې وې د هماغې کرسۍ له پاسه دوی هم په خپل مجاهد، غیور او قهرمان ملت باندې ډېرې بدې ورځې راوستلې.

لاس ته راوړلې افتخارات يې ټول تر پښو ورته لاندې کړل . د شلم قرن معجزه يې ورته مسخره او بیایې د خپل منځي جگړو د باروتو د لمبو په خوله ورکړه . اِنّاَ لِلّهِ وَ اِنّاَ ...وَ لاَ حولَ وَ لاَ قوةَ ...

په نتیجه کې دوی هم د الهي پریکړې له مخې د واک له صحنې ورک او د هماغه چا د غلامۍ کړۍ يې غاړې ته ورولویده چې ١٤ کاله د مسلمان ملت د وسلو خولې د هغوی په خوا ور اوښتې وې او نن بیا هماغه کرسۍ د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدو مسؤلینو تر واک لاندې ده .

نن بیا هغه د یو نیم ملیون شهیدانو د ارمان پوره کولو امانت دوی ته سپارل شوی دی. نن بیا د افغان مظلوم مجاهد ملت د کونډو ، رنډو یتیمانو ، او ټولو بیوزلو مظلوم لاسونه د دوی غاړې ته ورلویدلي او بالاخره نن دوی له دې لوی الهي امتحان سره مخامخ دي.

په دغه عظیم امتحان کې د موفقیت چانس هغه وخت تر لاسه کیدای شي چې د تیرو ظالمو واکمنانو له بده تاریخ نه عبرت واخستل شي. د مظلومو خدای مینو شهیدانو د پاکو وینو درناوی وشي. له الله تعالی او د هغه له مخلوق سره له بشپړ اخلاص نه کار واخیستل شي. په ټولو مادي مصالحو باندې دیني مصالحو ته ترجیح ورکړل شي او په بشپړه توگه الهي ارشادات ومنل شي او که خدای مکړه پورتنی معیارونه له پامه وغورځول شي بیا نو هغه الهي رغنده پریکړه چې : وَ اِنْ تَتَوَلّوا يَسْتَبْدِلْ قَوْماً ... به هرو مرو تحقق مومي او په نتیجه کې به مونږ له هغه بد برخلیک سره مخامخ کیږو چې هم به خپل خالق او هم به د خپل مجاهد ملت په وړاندې له خجالت او رسوایۍ سره مخامخ یو.

لوی خدای مو دې د دنیا او آخرت له خجالت او رسوایۍ نه په امان کړي .

آمین

رَبَّنَا لاَ تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا ...
رَبَّنَا اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْراً ...
رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَ...
رَبَّنَا وَ لاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ ...

ذکری از یک واقعه مهم در رابطه با کودتای ۷ ثور

وحید «مژده»

وقتی در سحرگاه یك روز بهاري یعنی ۷ ثور ۱۳۵۷ غریو فیر تانکها و انفجار ها و غرش طیارات شهر کابل را بلرزه در آورد کمتر کسي به این اندیشه بود که چه مصیبت بزرگي بر افغانستان نازل شده است. مردم به رادیو گوش میدادند ولي تا ساعتها جز نغمه هاي حماسي چیزي از رادیو پخش نمي شد. بین ساعت ٦ و هفت شام این روز اعلامیه کوتاهي به زبان هاي پشتو و دري به این شرح از رادیو پخش شد :

اعلامیه شوراي نظامي قواي مسلح افغانستان

«سردار محمد داؤد اخرین فرد خاندان مستبد نادر خان، این سرام فرست بي نظیر تاریخ و خائن به اراده خلق افغانستان براي همیشه از میان رفت. حاکمیت ملي بعد از این به شما خلق نجیب افغانستان تعلق دارد. دفاع از دست آورد هاي انقلاب، از این بردن هوا خواهان این سردار مستبد و ستمگر وظیفه فرد فرد مردمان شرافتمند افغانستان است.»

> تردیدي نیست که تصمیم به سرنگوني رژیم داؤد خان نه در داخل کشور بلکه در اتحاد شوروي و بوسیله رهبران این کشور گرفته شده بود زیرا سفر داؤد خان به بعضي از کشور هاي نزدیك به پکت ناتو روسها را از انکشاف اوضاع به نفع غرب در افغانستان نگران ساخت اما در همین زمان وقایعي در داخل افغانستان اتفاق افتاد که دخالت از خارج درین قضیه را در اذهان مردم تحت‌الشعاع خویش قرار داد و آن قتل میر اکبر خیبر بود.

متن پشتوي این اعلامیه بوسیله اسلم وطنجار و متن دري آن بوسیله جنرال عبدالقادر قرائت شد. خبر سقوط داؤد خان بسیاري را غرق در بهت و حیرت ساخت. دیکتاتوري که گمان مي کرد هیچ قدرتي در افغانستان قادر به مقابله با او نیست بوسیله یك گروه بسیج شده از خارج همراه با خانواده و نزدیکان خود اعدام گردید و با مرگ وي سلطه ٤٨ ساله خاندان یحیي بر افغانستان پایان یافت.

تردیدي نیست که تصمیم به سرنگوني رژیم داؤد خان نه در داخل کشور بلکه در اتحاد شوروي و بوسیله رهبران این کشور گرفته شده بود زیرا سفر داؤد خان به بعضي از کشور هاي نزدیك به پکت ناتو روسها را از انکشاف اوضاع به نفع غرب در افغانستان نگران ساخت اما در همین زمان وقایعي در داخل افغانستان اتفاق افتاد که دخالت از خارج درین قضیه را در اذهان مردم تحت اشعاع خویش قرار داد و آن قتل میر اکبر خیبر بود.

* * *

گاهي عامل یك تغییر یا تحول بزرگ در تاریخ میتواند واقعه یي در ظاهر بسیار ساده و کم اهمیت باشد. همانگونه که یك جرقه کوچك آتش میتواند آتش سوزي مهیبي را بدنبال داشته باشد و حتي شهري را به آتش بکشد.

قبل از کودتاي هفت ثور ۱۳۵۷ در افغانستان حتي در تصور کسي هم نمي گذشت که ممکن است قتل یك شخص در کشوري چون افغانستان بتواند وقایعي را بدنبال داشته باشد که سر انجام به فروپاشي اتحاد شوروي و تغییر نقشه جهان منجر گردد و ... ولي تاریخ دنیا ما از چنین وقایع شگفتي آور و شگرف خالي نیست.

وقتي در یکي از شبهاي ماه اپریل ۱۹۷۸ شلیك چند گلوله سکوت اوایل شب در نزدیکي مکروریان در کابل را در هم شکست و میر اکبر خیبر یکي از رهبران کمونیست وابسته به جناح پرچم از حزب دیموکراتیك خلق را راهي دیار عدم ساخت، جریان این قتل فقط از یك نظر غیر عادي و مهم جلوه کرد و آن اینکه زمینه ساز نزدیکي میان دو جناح خلق و پرچم شد.

ببرك کارمل بعد ها درین باره گفت که مرگ خیبر به سکوت سیاسي در کشور خاتمه داد . در مراسم تشییع جنازه وي عده کثیري شرکت کردند. بر خلاف ادعاي کمونیست ها که همه شرکت کنندگان درین تشییع جنازه را که شکل یك راه پیمایي را داشت هوادران خیبر قلمداد مي کنند اکثریت شرکت کنندگان یا تماشاچي بودند و یا با انگیزه مخالفت با داؤد بدنبال جسد خیبر براه افتادند ولي کثرت تعداد مردم درین روز کمونیست ها را مغرور ساخت بحدي که تره کي و ببرك در سخنراني در هنگام دفن خیبر بصراحت رژیم داؤد خان و CIA را مسؤول این قتل قلمداد کردند.

از این واقعه هر چند بیش از دو دهه سپري گردیده ولي تا کنون نیز وقایع نگاران از جریان دقیق ماجرا چیزي نمي دانند (جورج آرني) در کتاب خویش افغانستان گذرگاه کشور گشایان مي نویسد :

« یقین است که عمل قتل پیش از پیش طرح ریزي گردیده و اتفاقي نبود. هویت قاتلان بصورت قطع روشن نشد. رژیم داؤد تند رو هاي اسلامي را متهم کرد در حالیکه حزب دیموکراتیك خلق افغانستان CIA را مسؤول آن میدانست. به عقیده بسیاري از مردم قتل توسط رئیس پولیس و رژیم داؤد صورت گرفته بود اما بعد ها پرچمي هاي برجسته انگشت ملامتي را به طرف امین دراز کردند ... »

پرچمي ها مدعي بودند که صدیق عالمیار و برادرش عارف عالمیار بدستور امین، میر اکبر خیبر را کشتند و داکتر حسن شرق در خاطرات خویش مي‌نویسد :

« مرگ میر اکبر خیبر باید توسط یکي از کماندو هاي KGB مؤظف در سفارت شوروي در کابل به همکاري عبدالقدوس غوربندي که میر اکبر خیبر را از خانه براي قدم زدن بیرون کشیده است صورت گرفته باشد »

میر اکبر خیبر یکي از تیوریسن هاي مارکسیسم لنینسم در افغانستان بشمار مي‌رفت وي سالها قبل موقعیکه در مکتب حربیه درس مي خواند در توطئه یي علیه سردار شاه محمود خان متهم و چندین سال زنداني گردید . در زندان با ببرك کارمل آشنا شد و ببرك از نظریات وي تاثیر پذیرفت و به همین علت ببرك وي را «استاد» مي خواند. خیبر بعد ها به جناح پرچم پیوست و شاید بخاطر تحصیلاتي که در لیسه حربیه داشت مسؤولیت کار با افسران اردو را از طرف جناح پرچم بعهده گرفت. از طرف جناح خلق، حفیظ الله امین به این کار مؤظف شده بود . جناح سومي که در اردو فعالیت داشت نهضت اسلامي در افغانستان بود.

داؤد در آغاز بقدرت رسیدن بعنوان رئیس دولت در افغانستان با به شهادت رسانیدن عده یي از رهبران این تحریك ضربهٔ شدیدي به آن وارد نمود که به وقایع خشونت بار سال ۱۳۵٤ در لغمان و پنجشیر و پکتیا و بدخشان منجر شد سرکوب مسلمانان بوسیله رژیم داؤد به کمونیست هاي طرفدار ماسکو موقع مساعد فراهم آورد تا با آزادي بیشتر دست باز تر در اردو فعالیت نمایند. در عین حال اقدامات سرکوبگرانه علیه مسلمانان جناح تندرو در داخل این نهضت را تقویت نمود.

یکي از این جناحها که مرکز آن در پاکستان بود (احتمالاً از طریق شبکه هاي اطلاعاتي دولت پاکستان در آن زمان) از پلان کودتا علیه داؤد خان بوسیله کمونیست ها مطلع گردید. ساده ترین راه براي عقب انداختن این پلان را چنین تشخیص داد تا رهبران کمونیست طرفدار ماسکو باید ترور گردند.

دو تن از مجاهدین بنامهاي عبدالصمد مجاهد مشهور به (صمد کوچك) و یك محصل پوهنحی طب بنام (داکتر لطیف) ماموریت یافتند تا رهبران خلق و پرچم را ترور نموده و اقدام آنان براي دسترسي بقدرت از طریق کودتا را به عقب اندازند. هدف اولي ببرك کارمل بود.

عبدالصمد و عبدالطیف در چهارآسیاب کابل دو عدد تفنگچه و مقداري مرمي دریافت نمودند و در یك بعد از ظهر ماه اکست سال ۱۹۷۷ مانند معمول چند روز گذشته جلوي بلاکي که منزل ببرك در مکروریان موقعیت داشت کمین گرفتند.

آنها درین مدت چند بار ببرك را دیدند ولي شرایط براي عملي کردن نقشه آنان مساعد نشد مشکل بزرگ آنها وسیله، نقلیه بي بود که باید بعد از عملیات بوسیله آن از منطقه فرار مي نمودند آنها فقط یك عراده بایسکل داشتند که متعلق به داکتر لطیف بود و باید هر دو بوسیله آن از صحنه فرار مي کردند ! طبعاً در ازدحام روز این کار مشکل بود.

> **قبل از کودتاي هفت ثور ۱۳۵۷ در افغانستان حتي در تصور کسي هم نمي گذشت که ممکن است قتل یك شخص در کشوري چون افغانستان بتواند وقایعي را بدنبال داشته باشد که سر انجام به فروپاشي اتحاد شوروي و تغییر نقشه جهان منجر گردد و ... ولي تاریخ دنیاًما از چنین وقایع شگفتي آور و شگرف خالي نیست.**

آنها در نزدیکي بلاك ساعتها مي‌نشستند و ظاهرا خود را مصروف خواندن درس وانمود مي نمودند تا اینکه شام یکي از روز ها مردي را دیدند که همراه با یك زن از بلاك خارج شد و سوار موتر گردید. هر چند هوا رو به تاریك شدن مي رفت ولي شکي براي آنان باقي نماند که او ببرك است و حتما براي شرکت در یك مهماني شبانه به خانه یکي از دوستان مي رود. موقع مساعد شد زیرا بازگشت آنان زماني صورت مي گرفت که ساعاتي از شب گذشته و همه جا خلوت مي شد ... ساعتها گذشت بالآخره آن زن و مرد بازگشتند. مرد از عقب شباهت عجیبي به ببرك داشت. صمد که در نزدیکي در ورودي بلاك کمین کرده بود با فیر چند گلوله مرد را نقش بر زمین ساخت و بعداً هر دو بسهولت از منطقه فرار کردند.

آنها مطمئن بودند که کارمل را کشته اند اما فرداي آنروز خبر کشته شدن انعام الحق «گران» پیلوت آریانا در شهر پیچید. چون در آن روز ها پیلوت هاي آریانا اعتصاب نموده و مطالباتي را عنوان کرده بودند که مورد قبول رئیس آریانا (سردار سلطان محمود غازي) نبود قتل گران به آن مسئله ارتباط داده شد اما ببرك کارمل بعد از این واقعه جانب احتیاط را رعایت مي کرد و کمتر در نظر ها ظاهر مي شد.

شخص دیگري که در لست مجاهدین قرار داشت میر اکبر خیبر بود. چون وي بعنوان هماهنگ کننده فعالیت افسران وابسته به جناح پرچم در اردو فعال بود، حذف ولي از صحنه میتوانست در عقب افتادن کودتا مؤثر باشد. خیبر که با یکي از دوستان خویش (عبدالقدوس غوربندي) مشغول قدم زدن در یك جاده خلوت در نزدیکي مطبعه دولتي بود بوسیله همان دو نفر شناسایي گردید. آنها آنقدر منتظر شدند تا خیبر از همراه خویش جدا شد و بعد راه را بر وي بستند. او حتي فرصت فریاد کشیدن نیافت و با فیر چند گلوله براي همیشه خاموش شد.

در حالیکه نهضت اسلامي مي خواست با این اقدام پلان کمونیست ها یعني کودتا را از طریق ترور مهره هاي مهم آنان به عقب انداخته و خود فرصت تقویت موضع خود را در اردو بدست آرد . این اقدام نتیجه معکوس ببار آورد.

قتل خیبر موجب وحشت کمونیست هاي وابسته به ماسکو شد و دو جناح خلق و پرچم را با هم نزدیکتر ساخت دستگیري رهبران آنان بوسیله رژیم داؤد به وحشت و هراس در سطوح پائین افسران اردو افزود و پلان کودتا را تسریع نمود.

عبدالصمد مجاهد و داکتر لطیف بعد ها در دوران جهاد علیه کمونیست ها به شهادت رسیدند. جالب اینست که عبدالصمد مجاهد که در تحریك به صمد کوچك مشهور بود در ولایت غزني هنگام حمله به یکي از پوسته هاي ملیشه ها موقعیکه مي خواست یك بمب دستي را بداخل محوطه، پوسته پرتاب نماید بعلت سقوط همان بمب دستي بروي خودش به شهادت رسید. درست مانند قتل خیبر که نتیجه غیر قابل انتظار به ارمغان آورد!! تاریکي شب مانع از آن بود که وي بتواند جال سیمي یي را که به ارتفاع بیش از یك متر بروي دیوار کشیده شده بود تشخیص دهد و همین مانع موجب سقوط بمب بروي خودش گردید.

* * *

گاهي عامل یك تغییر یا تحول بزرگ در تاریخ میتواند واقعه یي در ظاهر بسیار ساده و کم اهمیت باشد همانگونه که یك جرقه، کوچك آتش مي تواند آتش سوزي مهیبي را ببار آورد... و حتي شهري را به آتش بکشد ... آیا اینطور نیست ؟!

د میړنیو کور

حنیفه زاهد شاه جوبې

دا کور د میړنو دی غلیمانو ته ځای نشته
ټاټوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
غلیمه عبرت واخله هم له روس هم له فرنګه
افغان له سر تیر ده خو هیڅ تیر ندی له ننګه
شرقیان یی تیت پرک کړل و غربیانو ته ځای نشته
ټاټوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
دا کور د خپلواکی دی هره تیږه ئی سنګر دی
چی بد یی ورته نیت وو د هغوی پری شوی سر دی
کارمل او شاه شجاع غوندی مریانو ته ځای نشته
ټاټوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
دا کور د ننګیالو دی چی دښمن یی دارولی
میدان د توریالو دی هر باطل یی لړزولی
ګلبڼ د سپین اسلام دی ملحدانو ته ځای نشته
ټاټوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
دا کور د بت شکن دی طاغوتیان ورنه داریږی
وطن د ابدالی دی خاینان ځنی لړزیږی
دی مینی د توحید کی مشرکانو ته ځای نشته
ټاټوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
چی ژبه د «زاهد» وی اسلامی هیواد به ستایی
ښکیلاک ورنه لړزیږی جهادی هیواد به ستایی
دی مینی د حریت کی غلامانو ته ځای نشته
ټاټوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته

هجوم درد

اي خاك تر بخون شهيدان گواه باش
بر منظري كه شيشهء دل را دهد خراش
دست نفاق و دست عدو تا بشد بهم
گستردهء بر سرير تو ذلت نشان فراش
زنجير بود حايل تن ها و آفتاب
اندر بساط عصر نجستم جز اين قماش
نقد حيات باخت گروهي درين شتاب
بي رنج گنج برد گروهي درين تلاش
بر لقمه كس درنگ و تامل روا نداشت
برد از رهء معاد خلايق غم معاش
مي خواند هر دمي به طواف دگر مرا
آن پيكري كه ساخته غرب صنم تراش
قاصر خرد ز چارهء اين رخنه بر حصار
ايمانها چو بيد از آن غرق ارتعاش
شور جنون گرفته قلم از هجوم درد
عيبش مكن اگر غم پنهان بگفته فاش
«با هر كمال اندكي آشفتگي خوش است
هر چند عقل كل شدهء بي جنون مباش»

مژده

د شعر او ادب نړۍ

چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع می زلفی د خوبان کړی

دا څه پېښکه

عاکف

هلته لا مخشور وی چی کرملین کی دی جلسه کړله
جوړه دی په زړه کی د برغل په مور نقشه کړله
چیغو او بغارو دی د مکر آزانګه وکړه
هلی امریکی افغانستان باندی حمله کړله
نه وه ربښتیانی دوستی دی روسه په دروا غو وه
نیو دی دا وطن، ګرم او بودی بله شپه کړله
کله دی څه ومو ندل په غرونو د زمریانو کی
غوری دی شوی ماتی چی خپله دی شیله کړله
هاغه وخت دی څه وکړل چی هر څه دی سره ولو
وینم دی اوس خوار یی تا د سوال لمن خپره کړله
بیا وینی خوبونه چی غوښتل به دی کول به دی
نشته هغه زور چی د غرور به دی غوټه کړله
پام کړه د چیچنیا ته تورسالی دی چوخوی به دی
مور ته مه راګوره یوه تښتیدنه دی پرده کړله
څومره به لا ښه وای چی دا څه پېښکه را تو له وای
هلته به عاکف د ټول افغان پولو ګزمه کړله

غزل

علم گل سحر

زما زخمونو ته سپورمی وژړل
د هیلو بڼ کی می غوټی وژړل
د سره کمون له لاسه دلته خلکو
د یتیم حال باندی نړی وژړل
آسمان به ځنګه او ښکی نه توی وی
آن چی په حال زمونږ ولی وژړل
بدرنګ دیوان راغلل د قاف له غرونو
چی دلته روح د ښاپیری وژړل
پلار یی په شپه کی یووړ، تور زندان ته
له خویه وینه شوه نجلی وژړل
رباب یی سر ړد تیپی په وینو
دلته آدم ته درخانی وژړل
که مور ته راپی وړلی اوښکی سوغات
داسی وخت راغی چی روسی وژړل
لاس ته می ولویدی غلام یی نه کړم
ځکه لاسو ته می کری وژړل

د ثور کودتاچیان د روسی جنرال مایاروف له نظره

فاروق

نن له هغی ورځی را ایسته پوره دوه ویشت کاله تیر شول، چی یو شمیر ځان پلورونکو د خپل ټول هیواد، هیوادوالو او خپل دین او خپلواکی د پلورلو تکل وکړ او بیایی هماغه خپل روسی باداران د ګران هیواد په کلی کوڅو او سمه غره کی ښکته پورته وګرځول او خپل هر څه یی ور باندی تالا ترغه کړل د ځان پلورونکو «خلقیانو او پرچمیانو» خو په خپل هیواد کی په بشپړ ډول مخ تور شو، خو ورسره یی د هغو په وړاندی هم څه عزت پاتی نه شو چی خپل هر څه یی ورباندی پلورلی و یوه روسی جنرال (مایاروف) چی د برغل پر وخت یی په افغانستان کی خپله پوځی دنده سرته رسوله، ددی پلورل شویو په هکله داسی څرګندونی کړی:

«دا ټول مصنوعی خلک دی، په لاس جوړی شوی څیری وی»

او د افغانستان د هغه اردو په هکله چی ربښتیا یی هم خپل مسوولیت سرته نه و رسولی او د روسانو په چوپړ لګیا وه، داسی وایی: «غواړم د افغانستان د پوځ په اړه هم یو څو خبرې وکړم، دی پوځ د اپریل (ثور) له انقلاب نه مخکی په صداقت د پاچا ظاهر شاه او د مانی دننه کودتا له پیښیدو وروسته دولس مشر داود چوپړ کاو، خو ته به وایی زمانی د خپلی مندی ګامونه چټک کړل، هر څه په هیښوونکی چټکتیا په بدلیدو

شول، دواک په پلاز لومړی ترکی، بیا امین او تر هغه وروسته ببرک کارمل ورخیږی، په دی ټول بهیر کی ستر پوځی جوړښت چی (۱۸۰-۲۲۰) زره افراد یی درلودل د پخوا په څیر پاتی و او هماغسی چلند یی کاو دا هیواد نی پوځ و او دنده یی هم د هیواد د ګټو ساتنه وه، نه دا چی ددغه یا هغه رژیم واک ټینګ کړی خو دا دی هغه وخت را رسیدلی و چی همدی پوځ د خپلو وروڼو مسلمانانو خلاف وسلی راپورته کړی، همدا کار د افغان ولس په غمیزی واوښت او دا غمیزه د کرملین استوګنو را منځ ته کړه (وګوری په افغانستان کی ربښتیا څه تیریدل)

په یو بل مهال چی جنرال مایاروف په لومړی ځل په کابل کی د ببرک کارمل سره کتنه درلوده او ارګ ته ورغلی و له هغه سره د کیناستو وخت داسی یادوی: «ورپرانیستل شو او زمونږ خپل روسی ګارسون د ودکاله پیالو ډک پتنوس په لاس را ننوت، په هغه شیبه کی چی کور به د ثور انقلاب د ارمانونو په پلی کیدو کی پر راتلونکی بریمنی همکاری له باوره ډکو خبرو پیلی شعار (د شرابو څښلو ځانګړی خبری) ورکاو ما ته جوته شوه چی هغه له سفیر نه زیات د سوکوکوف درناوی کوی چی آن د غوره مالی تر پولی رسیږی. کله چی د شرابو څښلو لپاره د شعار د ورکړی وار ماته راغی، ما افغان مشر ته د دوستی او له افغانی

وسله وال پوځ سره اوږه په اوږه وروستی بری ته د ثور انقلاب ډرسولو لپاره د هڅو ډاډ ورکړ او بیا می د انګلس یوی مقالی ته اشاره وکړه، ده غوښتل په یوه کمزوری خو مانالرونکی حرکت راوښیی چی د مارکس، انګلس او لینن له اثارو سره بلد دی، تویی وویل: لوستی مودی لوستی مودی، بیرک په غرپ غرپ دود کابوه پیغاله په بلی پسی تشوله».

د امین قدرت ته رسیدل او د ترکی د وژل کیدو په هکله داسی یادونه کوی: «امین بیا واک په خپل لاس کی تولاوه راتولاوه او البته چی د سوسیالیزم په جوړولو بوخت و، پروسله وال پوځ یی تکیه کړی وه او د سر سر پوځی افسرانو ته یی اړین او هر ډول امتیازونه ورکول، ترکی په ارګ کی چرچی کولی، شعر ګوتی یی کښل او پرنجونو بوخت وډد اندروپوف نری لیدونکو ستر ګو دا هر څه لیدل»

(په افغانستان کی ربښتیا څه تیریدل. ٤٠ مخ)

په یو بل وخت چی کله جنرال مایوروف د کارمل سره ناست دی او د کا جی بی یو څارګر «اوساد» کارمل ته د مایوروف تیر خدمتونه وریادوی نو کارمل د شراب څښلو پر وخت داسی وایی: پر سر بی واړوی.

مایاروف وایی زما نظر په هغی پردی ونښته چی د استراحت ځای یی له دفتر نه جلا کاو او لکه چی ماته ویربښیده لږ نیم کښه شوه او زه په یقین سره یوه شوم او زړه می هم دا راته وویل چی هلته اناهیتا ناسته ده، بیرک خپل ریږدیدلی لاسونه پورته نیولی او په چټکی زما خوا ته را نږدی کیده غیږ یی پرانستله او په چغو چغو یی غیږی اوښکی راتویی کړی، شوروی، شوروی، تواریش (ملګری) ... دا یی وویل او ژړل یی، د دولت مشر همدا خبری غبرګولی ملګری «اوساد» راته څرګندونی وکړی: هغه غمجن دی... د مزار شریف غمیزه... کندهار... هغه ډیر غمجن دی، بیرک له ما نه ځان خلاص کړ، چټک یی له میز نه د «سیمرنوف» شرابو بوتل راواخیسته او په بیړه یی راواړاو، څنګ ته، څه پر میز او څه په ځمکه له تویولو وروسته یی دری ګرستال ګیلاسونه تری ډک کړل.

ما سل زرونه یو کړل او ملګری «اوساد» ته می په غوږ او ډانګ پیبلی وویل: تولد پړه زه په غاړه اخلم، هر ټکی می ورته رساوژه باړه: «زه ستر جنرال مایوروف د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کی لوی پوځی تاسی بیرک کارمل په ټینګه د شرابو له څښلو منع کوم او ټینګار کوم چی سملاسی له دغه کار نه لاس واخلی» هغه تر یو او په غوسه و خو بیا یی هم چای وڅښه له لږ انتظار وروسته می یو ځلی بیا ملګری «اوساد» امر وکړ چی خبری می ټکی په ټکی وژباړی:

ما وویل: تاسی خبر یاست چی په هر ولایت کی د جګړی اور بل دی، هیواد په اور کی سوځی، سل ګونه افغان او شوروی عسکر مری. بیرک سر خوځوی او دا ټکی بیا بیا وایی: شوروی، شوروی... سپاسی بو، سپاسی بو، (مهربانی وکړی) او بیا می لکه چی د هغه پر شرابی سر د تیر ګزار کړی وی، په ټینګ غږ وویل: او تاسی دا دی دویمه اونی ده چی پر شرابو څښلو بوخت یاست او هیڅ پریکړی نه کوی... بیرک توپ کړ، ځمکه یی په پښو ووهله او چیغی یی کړی... ما وویل که همدا نن له شرابو څښلو لاس وانخلی نو زه به یوری اندروپوف او استینوف ته خبر ورکړم او هر څه به لیوندبرژنیف ته ورسیږی او له دی ځایه به داسی والوزی چی خدای خبر چیرته به ځمکی ته را کوزشی».

کله چی جنرال مایوروف په کابل کی ناروغ او په روغتون کی بستر و نو اناهیتا او جنرال ګل آغا یی پوښتنی ته ورغلی دی، مایوروف په دی هکله وایی: «لږ وروسته خبر راغی چی اناهیتا او جنرال ګل آغا راغلی دی، هغی لکه د تل په څیر انګریزی کالی اغوستی او ویښتان یی پورته ړمنځ کړی و ښکلی او سوتره وه، په موسکا یی ماته د ګلابو یوه غنچه راکړه، ما هم چی څومره کولای شول په ورین تندی هم مننه کوله او هم مو سل. ګل آغا وویل: میرمن د هر څه له امله له تاسی مننه کوی، او هیله لری چی ستاسی اړیکی به وړاندی هم د ثور انقلاب د بریاوو په ګټه همداسی پاتی شی، ماسپښین مهال د حکومت رئیس سلطان علی کشتمند او کریمه راغلل او د ګلاتو له یو لوی شکور سره رانوتل، وروسته د دفاع وزیر رفیع، د خاد رئیس نجیب، د کورنیو چارو وزیر ګلاب زوی، د مخابراتو وزیر وطنجار، او قادر پوښتنی ته راغلل»

یو بل وخت چی د مجاهدینو له خوا د جنرال مایوروف په استوګنځی د مجاهدینو له خوا د توپونو سختی ډزی و شوی او بیا دی هسی یج شوی و نو د دفاع، خاد او کورنیو چارو وزیران یی پوښتنی ته ورغلی، مایوروف. داسی خبری ورته کوی: ولی استخباراتو سم کار و نه کړ؟ کوستښین په ژاړه بوخت دی، افغانان چپه خوله دی، د نجیب مخ تک سور اوښتی دی نجیبه! نو ولی مو ماته هم خبر نه راکاو، ها؟ ولی؟ نجیب په څوکی اوښته را اوښته... چیربومنیخ راغی م وهل: دی (نجیب) او مرستیالان یی تل یا دروغ وایی او یا زاړه اطلاعات وړاندی کوی» چیربومنیخ همداسی پر خپله خبره ټینګار کاو د یابو د بدلولو وخت دی، زما دا خبری به دریادی شی خو کار به له کاره تیر وی.

په بل ځای کی جنرال مایوروف د کارمل په هکله وایی: «تراوسه هم دغه څیره لا راته ډېره مرموزه بریښی، له منطقه وتلی، بوده نه تشریح کیدونکی څیره وه، هیواد په اور کی سوځی، سل ګونه او زرګونه هیواد وال یی مری، د هیواد اقتصاد ړنګ دی، خو دی آرام دی او خوبی کوی... زه په دی خبری حیران او لک څک کولم خو چیربومنیخ به هماغه خبره کوله «نور د یابو د بدلولو وخت دی».

په یو بل مهال اناهیتا جنرال مایوروف ته ورځی، نوموړی دا کتنه داسی یادوی: «اناهیتا تور انګریزی کالی اغوستی و پر هیلی غاړی یی سری پټی کړی جوړی کړی وی او د هغی سپین کمیس یی ټینګ ساتلی و ویښتانو یی چی پورته ړمنځ شوی و د هغی د ښکلی او تورلی ځوان مخ ښکلا نووره هم زیاته کړی وه د دود له مخی مو دری دری ځله مخ په مخ سره ښکل کړل او په دی توګه مو یو بل ته هر کلی ووایه»

بقیه در هرات باستان ...

تسهیلات لازم مساعدت گردیده و تجار ملی کشور با استفاده از تسهیلات متذکره به تورید مواد مختلف پرداخته و حجم واردات به حدي است که پرسونل بندر در یك روز صد موتر تیلر را بار بندي نموده آماده انتقال مي‌نمایند. و تاجران ملی کشور میتوانند با استفاده از تسهیلات که مسوولین زون شمال غرب براي شان فراهم نموده اند در رفع مشکلات مردم کشور از ناحیه کمبود گندم و سایر مواد غذایی کوشیده و مصدر خدمت شوند.

محترم ملا خیر الله خیرخواه افزود : به اثر تلاش هاي خستگی ناپذیر مسؤولین زون شمال غرب و همکاري مردم ولایت هرات زمینه هاي خوب تفاهم و مذاکره در مورد عقد قرار داد تیل و گاز مایع و انتقال آن از طریق بندر تورغندي تیز کار هاي ارزشمندي صورت گرفته است در عرصه باز سازي تأسیسات عام المنفعه ترمیم سرك ها و احداث کلینیك هاي صحی ، حفر صد ها حلقه چاه هاي عمیق ، نیمه عمیق د مرکز و ولسوالی ها به همکاری مردم، ادارات امارتي و مؤسسات کار هاي موثري صورت گرفته است کار بخاطر نصب یك دستگاه تلفون توسط یك شرکت ایراني ادامه دارد توافقنامه توزیع برق به مربوطات حوزه زون شمال غرب با کشور ترکمنستان عقد گردیده عنقریب مناطق متذکره از اثر انرژي برق مستفید خواهد شد.

چندین مارکیت تجارتي در شهر هرات با سرمایه گذاري تاجران ملي هرات ایجاد گردیده است تاجران ملي در باز سازي نهاد هاي اقتصادي و ملي سهم فعال میگیرند مردم متدین هرات با رعایت کامل از اصول و قوانین شهر و مناطق مختلف هرات را آباد و معمور نموده اند.

موصوف علاوه کرد، در عرصه فرهنگی قدم هاي زیادي برداشته شده است مجالس ادیبان شعرا و نویسندگان تدویر گردیده جریده اتفاق اسلام و رادیوي هرات فعال میباشد مردم هرات زیاد به مسایل فرهنگی علاقه دارند و فرهنگ دوست هستند که علاقمندي آنها نیز سبب رشد فرهنگ در این زون گردیده است .

بقیه دملکي او تخنیکي ...

مختلفو څانګو په لړلو سره فعالیت کوی. ددغو مدرسو له جملی څخه نهه مدرسی په مرکز او یوولس نوری بی په ولایتونو کی د لوړو تعلیماتو لپاره شاګردان منی دغه مدرسی د نهمو ټولګیو فارغان په مختلفو څانګو کی منی او له پنځه کاله تحصیل وروسته د څوارلسم ټولګی د فراغت سند ورکول کیږی د یادونی وړ ده هغه شاګردان چی نمري یی په منځنی ډول ۹۰٪ ته ورسیږی د کابل پوهنتون په مربوطه اختصاصی څانګو کی په دریم صنف کی منل کیږی او له دوه کاله زده کړی وروسته د کابل پوهنتون د لسانس ډیپلوم ورکول کیږی . زمونږ د برش نوری مدرسی د نهمو ټولګیو فارغان په لسمو ټولګیو کی منی او له دري کاله تحصیل وروسته د دولسم ټولګی د فراغت سند ورکول کیږی او وروسته د کابل پوهنتون کانکور ته معرفی کیږی.

محترم مظهری زیاته کړه زمونږ په مدرسو کی شپږ اتیا اختصاصی څانګی موجودی، دی چی مهمی یی په لاندی ډول دی : خرادي او ماشین ولډینګ د موټرو او تراکتورونو د ترمیم، نجاری، ساختمان، د برق مهندسی، د راډیو او تلویزیون ترمیم، سرامیک، نساجی، سړک جوړونه، طباعتی، نقاشی، رسامی، خطاطی مالیه او بودجه ، محاسبه، اداری، تجارت، حلبی سازی، ریخت ګری، نلدوانی، وترنری، د حیواناتو روزنه، کرنه، د کرنی پراختیا او اقتصاد ، د کرنی انجنیری د کرنی کوپراتیف، کود او برق د کیمیاوی تکنالوژی څانګه او داسی نوری.

محترم مظهری ددی پوښتنی په ځواب کی چی په تیر کال کی مو کوم کارونه تر سره کړی ؟ وویل : د مسلکی تعلیماتو لوی ریاست یو دوهم واحد دی چی د پوهنی وزارت په چوکاټ کی ځای لری د هیواد د

پاتي د تیرو خپل منځي جګړو له امله زمونږ تحصیلي او ...

علومو ته ځانګړی ځای ورکړی په دی پروګرام کی د فقی، عقایدو، تفسیر او د اسلام تاریخ مضامین شامل او د تکړه او مجربو استادانو له خوا تدریس کیږی. ده د یوی بلی پوښتنی په ځواب کی وویل د تیرو خپل منځی بی مفهومه جګړو له امله زمونږ تحصیلی او تعلیمی موسسو ته درانه زیانونه رسیدلی ددی بی مانا نښتو له امله نه یوازی دا چی ددغو موسسو ودانی کنډوالی او تعلیمی معیارونه له منځه ولاړل بلکه ټول هیواد په کنډواله بدل شو له نیکه مرغه د افغانستان د اسلامی امارت د ملی دفاع وزارت د چارواکو د جدی پاملرنی او زیاتی دلچسپی له امله له امارتی بودجی نه د ملیاردونو افغانیو په لګښت یو ځل بیا ددغو موسسو ودانی ترمیم او د محصلینو د استفادی وړ وګرځیدی باید ووایم چی د بیا رغونی په برخه کی تر اوسه پوری ګڼ شمیر د لوست خونی، د خوب خونی، طعام خانی، پخلنځی حمامونه او نوری خونی بیا جوړی او د ګټی اخیستو وړ شوی د یادونی وړ ده چی موږ د خپلو اړونده تحصیلی موسسو ته اړتیا ور درسی مواد او سامان آلات په ټاکلی وخت سره اکمال او د دوی په واک کی موږ ورکړی دی.

محترم بشرانی د علمی او مسلکی کدرونو په باب وویل : زمونږ د تحصیلی او تعلیمی موسسو زیاتره استادان د اسلامی مفکوری او هیواد پالنی د روحیی په اساس لا تر اوسه هم په نظامی موسساتو کی په خپلو اړوندو چارو بوخت دی. موږ د دوی سپیڅلی روحیی او ګټورو کارونو ته د قدر په سترګه ګورو همدا وجه ده چی د علمی او مسلکی کدرونو د نشترالی یا کمبود له امله هیڅ ډول ستونزی نه احساسوو.

ده د پوځی یونیفورم په هکله چی د اردو د منسوبانو ممیزه ده داسی وویل : د افغانستان اسلامی امارت د عسکری یونیفورم په باب دلچسپی لری. البته د محمدی « ص » غرا شریعت په چوکاټ کی موږ د هیواد له جیدو علماوو نه په دی باب استفتا غوښتی په نږدی راتلونکی کی به دا مسأله روښانه شی فی الحال له پخوانی یونیفورم نه استفاده کوو . د یادونی وړ ده چی محصلینو ته پر اعاشی او اباطی بر سیره د هری اوونی په ترڅ کی جیب خرڅ هم ورکول کیږی.

په پای کی محترم مولوی ممتاز الله آغا بشرانی ددی پوښتنی په ځواب کی چی د لوړو زده کړو وزارت د تحصیلی موسسو علمی او مسلکی کدرونو ته پر رتبوی معاش برسیره کدری امتیازات هم ورکول کیږی آیا تاسی هم له ورته امتیازاتو څخه برخمن یاست؟ داسی وویل : په دی باب موږ له اړوندو چارواکو سره په تماس کی یو انشا الله په نږدی راتلونکی کی به د نظامی موسسو استادانو هم له ورته امتیازاتو نه ګټه واخلی. تړیوال

پاتي د ا.ا.ا.دریځ ...

وویل د اسلامی امارت له نظره تروریزم په بشپړه توګه مردود دی او په هیڅ دین او مذهب کی ځای نلری او د تروریزم او جهاد تر منځ بشپړ توپیر شته د افغانستان اسلامی امارت د ملګرو ملتو د سازمان ټولو نړیوالو میثاقونو ته چی د اسلامی شریعت په خلاف نه وی پابند دی.

مور نه یوازی غوښتونه او روزنه غوره ګڼو بلکی هغه موږ پیلی او کوښش کوو چی په خپلو امکاناتو سره د هیواد د بچیانو د ښوونی او روزنی لپاره په هیواد کی د روزنی ښه شرایط برابر کړو.

بقیه یکمقدار مواد...

خیریه فوکس آغاز گردید. از جریان توزیع مواد متذکره محترم ملا عبدالقدوس فهیم رئیس اداره شهدا و مهاجرین ولایت بغلان و محترم ذبیح الله عنایت مسؤول دفتر فوکس مقیم شهر پلخمري و عده یی از مسؤولین امارتي دیدن نمودند.

منبع مربوط گفت مقدار یکهزار تن گندم و سی تن روغن طی سه مرحله به صورت ماهوار طبق پروګرام توزیع میگردد ودیروز براي ۳۰۰ خانواده مستحق روغن و آرد توزیع گردید.

بقیه د پکتیا په ولایت کې ...

اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هغه سیمینار کی چی د پولیو یا د ماشومانو د فلج د ناروغی د واکسین د کمپاین د ښه والی په مقصد په دغه ولایت کی جوړ شوی و د پکتیا ولایت د عامی روغتیا رئیس محترم مولوی عبدالرؤف او د جنوب په حوزه کی د واکسیناسیون د ملی پروګرام د تطبیق مسول محترم ډاکتر غلام فاروق خبری وکړی.

د مسول خبر ځای د خبر له مخی د پکتیا په ولایت کی د واکسیناتورانو د یو سلو پنځه ویشتو تیمونو په واسطه له پنځه کلنی څخه ښکته اته اتیا زره نه سوه څلور نوی تنه ماشومان د پولیو یا د فلج ناروغی په وړاندی واکسین کیږی.

دغه پروګرام د یونیسف او د سویډن موسسی له خوا پیل شویدی.

بقیه کاندیدان مقام ...

جمهوري نموده ولي به گفته خبر مذکور هیچ یك از آنان از محبوبیت و نفوذي چندان بر خوردار نیستند . قابل تذکر است که دوره کار ریاست جمهوري سلیمان دیمیرل رئیس جمهور کنوني بتاریخ بیست و هفتم ماه ثور به پایان میرسد.

پاتي نماینده خاص ایالات ...

الشرع وزیر خارجه سوریه بار دیگر اسرائیل را متهم ساخت که به تعهد صلح ... نیست. وزیر خارجه سوریه گفت خروج اسرائیل از جنوب لبنان باید بصورت کامل صورت گیرد و این عقب نشیني باید با قطعنامه هاي سازمان ملل متحد منطبق باشد.

پاتي اعلامیه وزارت ...

مستقیم نظامی به مخالفین ا.ا.ا سخن میگویند و حتی احتمال حمله مستقیم به افغانستان را نیز بدور از احتمال ندانسته رد نمیکنند.

وزارت امور خارجه ا.ا.ا به این وسیله توجه مجامع بین المللي و ذهنیت هاي بیدار در جهان را به این مسأله جلب نموده از آنان تقاضا دارد تا بر علیه مداخلت آشکار روسها و عمال آنان در امور داخلي افغانستان که موجب دوام جنگ در این کشور است از نفوذ خویش استفاده نمایند اگر سازمان ملل متحد در برابر موضع گیري هاي علني و مداخله گرانه روسیه و کشور هاي اقمار آن علیه افغانستان و اقدام مخالفین به جنگ و حمله بر مواضع نیرو هاي ا.ا.ا بیش از این خاموشي پیشه نماید این عمل نشانه از تخلف این سازمان از موقف بیطرفانه آن خواهد بود و به اعتبار این سازمان در نزد مردم افغانستان بیش از پیش ضربه وارد خواهد آمد.

پاتي په الهي نصرت سره...

شپه د بګرام د هوایی ډګر په استقامت د اسلامی اردو د مجاهدینو په سنګرونو او استحکاماتو باندی په ناڅاپه تعرض لاس پوری کړ چی په الهی نصرت او د اسلامی اردو د مجاهدینو په میړانه په هماغو لومړیو شیبو کی ناکام شو .

د اسلامی اردو مجاهدینو د باغیانو تعرض په بشپړه توګه په شا وتمباوه او وارن دښمن ته یی د سر درانده زیانونه او زیات مالی تاوانونه واړول چی تر اوسه پوری موږ ال بالیقی او اجیر دښمن په دی نه دی بریالی شوی چی د خپلو وژل شویو افرادو مړی راټول کړی

د اسلامی اردو د مجاهدینو په سنګرونو باندی د باغیانو لومړنی تعرض د کلای نصر له استقامت څخه او دویم تعرض یی د نوی سړک له استقامت څخه وشو .

پاتي د چین جمهور ...

بیکی او ددغه هیواد له پخوانی جمهور رئیس نلسن ماندیلا سره وګوری او د اقتصادی او تجارتی اړیکو په باب به ورسره وغږیږی.

ددغه خبر له مخی دا پارتاید د رژیم په نامه په جنوبی افریقا ک. د سپین پوستو د حکومت په دوران کی دغه هیواد له تایوان سره صمیمانه اړیکی لری په داسی حال کی چی چین د تایوان تا پوخپل یو جلا شوی ایالت بولی او په هغه باندی ځمکنی ادعا لری.

پاتي خشونت ها در کشور ...

پوستان و سیاه پوستان روي مالکیت مزارع و کشتزار ها روي داده که تعدادي از کارگران این مزارع مجروح و در شفاخانه ها بستري شده اند. درین خشونتها همچنان دو سفید پوست کشته شده اند.

د کډون بیه له هیواد نه بهر		
ملک	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

هشتم ثور

بعد از چهار ده سال جهاد قهرمانانه، ملت مجاهد ما به نصرت الهي توانست تا همچو ارتش سرخ پوز آخرین دست نشانده روس در افغانستان را نیز بر خاك مالیده و او را به کنار رفتن از قدرت مجبور سازد. جهاد ملت شهید پرور ما که یك قیام سرتاسري اسلامي علیه کمونیزم خونخوار بود و چشم امید تمامي امت اسلامي بسوي نتائج نجات بخش آن دوخته شده بود متاسفانه که در نتیجه خیانت بعضي از حلقات بر سر قدرت در صفوف مجاهدین در آخرین لحظات پیروزي به انحراف کشانیده شده و در روز هشتم ثور مادامیکه همه ملت مجاهد ما از خوشي و غرور اسلامي بر خود مي بالیدند و از فرط خوشي اشك مي ریخت نا گهان دیده شد که باز هم همان جنرالان روس پرور و ملیشه هاي جنایتکار در مرکز قومانده و صفوف قواي نظامي حاکم بوده و ادعاي شراکت در نظام را سر مي زنند.

روز هشتم ثور واقعاً که در تاریخ افغانستان یك یوم خیلي مهم و با ارزش بوده و این بخاطري که یك ملت تهي دست از نگاه مادي توانست تا بزرگترین قدرت نظامي عصر و ایادي خونخوار وي را سر بر زمین زده و آنها را به پذیرفتن اصل پیروزي حق بر باطل قانع سازد بدین ملحوظ مي بایست تا از این روز تجلیل بعمل مي آمد و بر آن مي بالیدند اما اینکه چند تن از دیوانه گان قدرت و افرادي چندي از تربیت یافته گان دشمن در صفوف جهاد رخنه وارد نموده و با ائتلاف هاي نا مقدس جهاد ملت ما را که ثمره خون صد ها هزار شهید ملت مجاهد افغان و امت اسلامي بود در آخرین دقایق به یك جنگ بي مفهوم و تباه کن مبدل نموده و دل دشمنان اسلام را بر ما مسرور ساخت چون در این روز بنا بر تا . حصول نتایج سعادت آفرین و افتخار آمیز از جهاد چهارده ساله، دشمنان اسلام مسرور گردیده و از باعث آغاز درگیري ها در صفوف مجاهدین به یکدیگر تبریکي تقدیم مینمودند بناً ملت رنجدیده ما نمیتواند این روز را منحیث روز خوشي و جشن و یاروز نجات و افتخار کامل محسوب نماید. ملت مجاهد ما در میدان قرباني و ایثار توانست تا دشمن را به شکست قطعي مواجه سازد اما در میدان سیاست و حکومت سازي فریب دشمن را خورده و در دام حیله هاي آنها محصور گردید. بعضي از حلقات دشمن اصلي را فراموش نموده حتي دشمن اصلي را در آغوش گرفته و بر برادر مجاهد و همسنگرش آتش گشود و آن قسمتي از کشور را که از یورش و وحشت روسیهاي وحشي و غلامان خلقي پرچمي شان آباد مانده بود به ویرانه مبدل ساخت . سازش بعضي از حلقات با حکام روسي در مسکو و ائتلاف شان با مزدوران شکست خورده روس در کابل کدام امر و عمل ناگهاني نبوده و عواقب آن نیز غیر مترقبه نبود بلکه حلقات و اشخاص مذکور بنا بر ملحوظات تباه کن سیاسي ، قومي، لساني، سمتي و مذهبي از قبل با دشمن کنار آمده و بر خلاف آمال ملت مجاهد خو روز کسب افتخارات و نتائج جهاد مقدس را به روز کشتار و ویرانگري مبدل ساخته و ملت را به خاك و خون کشانید بناً روز هشتم ثور با آنکه آخرین بقایاي رژیم دست نشانده کمونیستي در کشور سرنگون گردید اما چون در اداره جدید باز هم کمونستان جنایتکار حیثیت و اقتدار کلیدي داشته و مجاهدین را بین هم به رویارویي کشانیدند براي ملت ما روز میمون نبود شخص احمد شاه مسعود و استاد وي رباني که در بستن و تحکیم ائتلاف با بقایاي کمونیزم، ملیشه هاي بي فرهنگ گلیم جم و کشتمند رول کلیدي را بازي نمودند بصورت مستقیم نتائج جهاد ملت مجاهد ما و هزاران تن از مجاهدین امت اسلامي را به خاك برابر ساخته و خود نیز نام ننگین در تاریخ کمایي نمودند از ازینرو یوم هشتم ثور را که مصادف با حاکمیت ائتلافي مسعود رباني بود و این دو استاد و شاگرد تا امروز بر افتخارات ملت ما خاك ریخته، در آغوش دشمن قرار گرفته و ملت قهرمان ما را به خون و ماتم کشانیده نمیتوان روز سرور و قابل تجلیل تلقي نمود.

ملت مجاهد ما آن چه در توان داشت قرباني داد و قهرماني آفرید بناً پیروز و پر افتخار از آزمون سترگ جهاد بدر آمد و تاریخ کشور و اسلام را براي ابد زینت بخشید و کمونیستان را مجبور ساخت تا از قدرت دست به سر شوند و آنهاییکه به این جهاد مقدس خیانت نمودند مي بینیم که تا امروز ذلیل و زبون در مغاره ها و با آغوش باداران شان آخرین لحظات حیات ننگین شانرا سپري مینمایند . پس لازم است تا از انجام آنها درس عبرت آموخت.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press